13/10/2025

# په بریالیتوب سره د افغان ښځو لپاره د ولسي محکمې د ترسره کېدو په اړه مطبوعاتي اعلامیه

د افغانو ښځو لپاره ولسي محکمه د رواداری بنسټ، د افغانستان د بشري حقونو او ډموکراسی مؤسسې، د څېړنې او پراختیا بنسټ او د بشري حقونو د مدافعینو د ټولنې په ګډ ابتکار، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۸مې تر ۱۰مې نېټې پورې د قاضیانو پلاوي او څارنوالانو ، د بشري حقونو د متخصصینو، قربانیانو او شاهدانو په حضور کې، د هسپانیا په مادرید ښار کې په بریالی توګه ترسره شوه.

موږ د هغو قربانیانو او شاهدانو له زړورتیا او اغیزمن حضور څخه د زړه له کومې مننه کوو چې د دې محکمې د استماع دوو ورځو غونډو په ترڅ کې یې خپلې کیسې او تجربې شریکې کړې او د قاضیانو د پلاوي په وړاندې یې شهادت ورکړ. همدارنګه، موږ د درنو قاضیانو او څارنوالانو، د مادرید د حقوقپوهانو د ټولنې، د رسنیو د اغېزمن ګډون او د دې تاریخي بهیر د پراخ پوښښ، او همدارنګه د افغانستان د ولس، مدني ټولنې د بنسټونو، نړیوالو بشري حقونو د ادارو، د خلکو دایمي محکمې او د اندونیزیا د ښځینه عالمانو د کانګرې د ارزښتمن ملاتړ له امله خپله مننه او قدردانی څرګندوو.
د دې بهیر ترسره کېدل د څو میاشتو هڅو، پلان جوړونې، همغږۍ او دوامدار کار پایله ده، چې په نېکمرغۍ سره د قاضیانو پلاوي او څارنوالانو، کارپوهانو، د مدني ټولنې د بنسټونو، د بشري حقونو د بنسټونو، رسنیو او په ځانګړي ډول د قربانیانو او شاهدانو د زړور حضور په مرسته، همکارۍ او ارزښتمن ملاتړ سره په بریالیتوب ترسره شو. دا بهیر زموږ ټولو ګډه لاسته راوړنه او د عدالت د ټینګښت، حساب ورکونې او د قربانیانو د حقونو د ملاتړ په لور یو مهم ګام ګڼل کېږي.

موږ پوهېږو چې د عدالت ترلاسه کول او د بشري حقونو د قربانیانو د غوښتنو پوره کول یو ستونزمن او له ګڼو ننګونو ډک بهیر دی؛ خو د دې محکمې بریالۍ تجربې وښودله چې د یووالي، ونډې او ګډو هڅو له لارې کولای شو د قربانیانو د حقونو د ملاتړ او د حساب ورکونې د میکانیزمونو د پیاوړتیا په لور ستر ګامونه واخلو.

د دغه لارې په دوام، موږ د مدني ټولنو له بنسټونو، کارپوهانو او رسنیو سره د همکارۍ، سلا مشورې او رغنده تعامل پر ارزښت ټینګار کوو او د خپلو ټولو مخاطبینو له هر ډول وړاندیز، نیوکې او رغنده نظرونو څخه په تود هرکلي سره استقبال کوو.

پای